بسم الله الرحمن الرحيم

**خبر او تبصره**

# مایک پمپيو غواړي چې د مرکزي اسیا د حکامو په غاړه کې پړی واچوي او کنټرول يې کړي!

**خبر:**

د فبروي په ۳مه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د «C5 + 1» غونډې په څنګ کې د مرکزي اسیا د بهرنیو چارو له وزیرانو سره وکتل. د ازبکستان د بهرنیو چارو وزارت پر خپله وېبپاڼه د «C5 + 1» د وزیرانو د ناستې په اړه یوه ګډه بیانیه خپره کړه. په دغه بیانیه کې په ځانګړي ډول راغلي وو:

«د سیمه‌ییزو فعالیتونو اوسنی پرمختګ د «C5 + 1» ارزښت او اړیکه ښيي، دا د دې سبب کېږي چې کډونکوونکي يې په خپلو کې د مرکزي اسیا د امنیت، هوساینې او پرمختګ د باوري کولو په اړه خبرې اترې او عملي کار وکړي.

امریکا متحده ایالات د دغې سیمې له هېوادونو څخه د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او د دوی د حاکمیت له حق څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي او همداراز دې ته ژمن دي چې د ګډو ګټو په هره برخه کې سیمه‌ییزې همکارۍ وکړي.

د دې لپاره چې مرکزي اسیا يې له خپل ټول پوتانشیل څخه ګټه واخلي، د دغې غونډې ګډونوال د همکاریو په پرمختګ کې خپله ټوله هڅه کوي...»

**تبصره:**

د امریکا پالیسي د پانګوالۍ د بې دینۍ پر نظام ولاړه ده، کار يې د نورو هېوادونو استعمار دی. هېڅ داسې هېواد نشته چې د امریکا له پالیسۍ سره په مخ کېدو کې بریالی شوي وي؛ برعکس، په پورونو کې غرق شوی او همداراز د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو ناورینونو په ګېون له ګڼ شمېر نورو ناورینونو سره مخ شوي دي. په تېره پېړۍ کې امریکا د نړۍ په بېلابېلو لویو وچو کې په څه باندې ۴۰ جګړو کې ګډون کړی. وروستۍ يې په افغانستان، عراق، لیبیا، سوریه، هایتي، سومالیا او یمن کې پوځي جګړې دي.

ښکاره ده چې امریکا د مرکزي اسیا لپاره پلان لري. دا پلان د یوه بل پلان -چې منځنی ختیځ ورته وايي- برخه ده. موږ وینو چې د امریکا متحده ایالاتو په اسلامي امت کې د دوی د غلامانو، دیکتاتورانو او نورو خاینانو په واسطه په «منځني ختیځ» کې ډېرې بریاوې ترلاسه کړې او پر ځان په ډېر باور سره دلته حکومت کوي. امریکا اوس غواړي چې همداسې پر مرکزي اسیا هم نفوذ

ولري او په هغه څه پورې يې وتړي چې دوی «لوی منځنی ختيځ» ورته وايي او په دې توګه به د دغه سيمې طبعي سرچينې لوټ کړي، دا د استعمارګرو کار دی.

د مرکزي اسيا پر حکامو روسيه نفوذ لري؛ خو روسيه اوس داسې نه ده لکه د شوروي اتحاد پر وخت چې وه، هغه وخت چې د دوی کميونېستي ايډيالوژي حاکمه وه او له امريکا سره يې ځان وهلی شوی. نن ورځ روسيه د چټک تنزل په حال کې ده او په يوه فرعي دستګاه بدلېږي. پوتين غواړي خپل زور وښيي، هڅه کوي چې د نړۍ په سياست کې وي؛ خو ايډيالوژيکي شاتګ يې نه پرېږدي او هغه اوسپنيزې مټې مرسته نه شي ورسره کولی.

همداسې د مرکزي اسيا حکام هم له سياسي او ايډيالوژيکي اړخه شاته پاتې دي، د خپلې خامۍ له وجې فکر کوي چې امريکا به هم له دوی سره يو شان اړيکې ولري او دوی ته به د خپلواکو دولتونو په سترګه وګوري. په حقيقت کې به له دوی سره هم هغه څه کېږي چې تر اوسه کېدل. لومړی به پورونه ورکړي، لوېې پانګونې به ورسره وکړي، پوهېږي چې فاسد چارواکي به دا پيسې چور کړي او هغه وخت به امريکا خپل پورونه غواړي. د مرکزي اسيا ديکتاتوران به د دغو پورونو د ورکړې وړتيا نه لري او له مجبورۍ به خپلې طبعي سرچينې د ناڅيزه پيسو په بدل کې ورکوي او داسې سياسي پرېکړې کولو ته به اړ شي چې د امريکا پکې ګټه وي.

د مرکزي اسيا دغه مفسد حکام هغو سپيانو ته ورته دي، چې په غاړه کې يې پړی اچول شوی وي. د پړي سر چې هر څوک ونيسي په همغه پسې ځي. دوی د الله سبحانه وتعالی له دښمنانو سره په يوه کتار کې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې درېږي! د خپلو خلکو د وضعيت غم نشته ورسره، يوازې د خپلو پيسو او قدرت په غم کې دي. د خپلو بادارانو- د ختيځ او لوېديځ بې دينان- لپاره، د ترهګرۍ او سختدريځۍ پر وړاندې د مبارزې په نامه مسلمانان زنداني کوي، له خپل دين څخه يې منعه کوي او نه پرېږدي چې اسلام يو ځل بيا ژوند ته راشي.

اې مسلمانانو! دغه فاسد او بېکاره دولت يوازې موږ بدلولی شو. الله سبحانه وتعالی په خپل پاک کتاب کې فرمايي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾

[رعد:۱۱]

*ژباړه: حقيقت دا دی چې الله سبحانه وتعالی د هېڅ قوم حالت نه بدلوي، تر هغه چې دوی خپل اوصاف په خپله نه وي بدل کړي.*

له دغو فاسدو حکامو لاس واخلئ! د هغه چا خبرې ته غوږ مه نيسئ چې خپل اخر يې په دنيا ورکړی وي، هغه بدبخته عالمان چې د خپلو ديکتاتورانو د خوښۍ لپاره فتواوې ورکوي! رښتينی بدلون راولئ! د ژوند او دين د بېلوالي فکر لرې کړئ! موږ مسلمانان يو، پر خدای باور لرو، دين مو اسلام دی او اسلام د بشر د ژوند، ټولنې او دولت لپاره نظام لري! له حزب التحرير

سره په ګډه، ژوند ته د اسلام د بیا راوستو لپاره کار وکړئ! د نبوت پر تګلاره راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره له کار کوونکو سره یو ځای شئ! انشاالله چې خدای به نصرت راکړي!

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## ایلدر خمزین

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی